# دافغانستان اسلامی امارت
# د لوړو زده کړو وزارت
# د فراه لوړو زده کړو مؤسسې
# اوهلمند پوهنتون تر منځ هوکړه لیک

دا هوکړه لیک د لاندي دوو تحصیلي ادارو ترمنځ پیشنهاد شوېدي، چي عبارت دي د هلمند پوهنتون او فراه د لوړو زده کړو مؤسسې څخه چي په ترتیب او همږغي سره به د دواړه ادارو ترمنځ ددې لیک په ملتیا سره واضح شي. د دواړو ادارو شالید پدې هوکړه لیک کې په لاندي ډول واضح کیږي:

**د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې پیژندنه**

فراه د لوړو زده کړو مؤسسه د هیواد په کچه یو علمي مرکز دی، چې د لومړي ځل لپاره یې په ۱۳۹۱ هـ ل کال د وږي په میاشت کې د باغ نو په ساحه (د زراعت ریاست پخواني تعمیر) کې په فعالیت پیل وکړ. یادې مؤسسې په شروع کې یوازې د ښوونې او روزنې پوهنځی درلود، چې په یاد پوهنځي کې یوازې دوه څانګې، چې ۶ تنه استادان او ۶۵ تنه محصلین یې درلودل. د وخت په تیرېدو سره د کرهنې، اقتصاد، شرعیات او عامه اداره او پالیسی پوهنځي هم د فراه لوړو زده کړو مؤسسې په تشکیل کې ور اضافه شول. اوس مهال د فراه لوړو زده کړو مؤسسه (۵ ) پوهنځي او (۱۶) څانګې لري، چې په کښې ۱۲۰۱ تنه محصلان په زده کړو بوخت دي او د (۷۴) تنه استادانو، چې د ماستر او لیسانس په کچه تحصیل لري، ورته تدریس کیږي.

**هلمند پوهنتون لنډه پیژندنه**

هلمند پوهنتون په ۱۳۸۶ هـ ل کال کې د لوړو زده کړو د وزارت لخوا منظور او په ۱۳۸۷ هـ ل کې یې د خپلو ودانیو د نه شتون له امله د هلمند د پوهنی ریاست اړوند د عالی دارالمعلمین په ودانیو کې خپلې تدریسي او اداري چارې عملاً پیل کړې، خو اوس له نیکه مرغه دوې ساحې چه یوه یې اوه سوه (۷۰۰) جریبه چه د ښار په ۱۷ کیلومتري کې موقعیت لري او بله یې هم ۷۳ جریبه چه د ښار په داخل کې موقعیت لري او اوسهمال ټولې اداري او تدریسي چاري په همدي ساحه کې مخ ته وړي، درلودونکی دی.

هلمند پوهنتون چې اوس مهال ( ۲۰۰۰) تنه زده کړیالان لري. یاد پوهنتون ټولټال (۲۰) څانګې لري د شپږو پوهنځیو (کرهنې ، ښوونه او روزنه ، انجنیري،شرعیات، اقتصاد او وترنري ) په چوکاټ کې فعالیت لري .

د کارمندانو اړوند معلومات :

د هلمند پوهنتون په اداري برخه کي (۵۱) تنه کارمندان لري چي د هغې جملې نه يې (۲۸) تنه اداري کارکوونکي او (۲۳) تنه يې خدماتي کارکوونکي دي .

د ۱۳۹۳ هـ ل کال را پدې خوا د کيفيت د لوړاوي په پروسه کي شامل سوي يو په ۱۳۹۵/۱۱/۱۰ نيټه مو لمړي پړاو د ۵۱ نمرو په ترلاسه کولو په بريالیتوب سره سرته ورساوه او همدارنگه دوهم پړاو مو هم په ۱۳۹۸/۳/۲ نيټه د ۷۳ سلنه نمرو په ترلاسه کولو په بريالیتوب سره بشپړ کړ.

همدارنگه هلمند د لوړو زده کړو مؤسسې لپاره پنځه کلن ستراتيژيک پلان (۱۳۹۸-۱۴۰۲ هـ ل ) شتون لري چه د هلمند پوهنتون د علمي شورا ترتائيد وروسته د لوړو زده کړو وزارت عالي شورا په ۱۳۹۸/۸/۱۵ نيټې په (۵) گڼه پروتوکول کي ثبت او تائيد سويدی.

د دي لپاره چه فارغين مو د کار د بازار د غوښتني سره سم روزلي وي د نوی کريکولم څخه استفاده کوو. د کيفيت د لوړاوي په موخه هلمند پوهنتون رهبري په ډيرکم وخت کي نه ستړي کيدونکي کوښښونه کړي تر څو د محصلينو لپاره معياري وداني، لابراتوارونه او نوري اړيني اسانتياوي برابري کړي

**د هوکړه ليک هدف**

د هلمند پوهنتون او فراه لوړو زده کړو مؤسسه دواړه موافقه لري، چې دوه اړخيز مفاد په نظر کی نيولو سره د تحصيل، تضمين کيفيت او علمي تحقيق د تبادلې د فعاليتونو په زياتوالي کې يو له بله سره همکاري وکړي. دواړه پوهنتونونه به د خپل رسالت او اهدافو مطابق په ساحو کې فعاليتونه ترسره کوي. دا هوکړه ليک د دواړو پوهنتونونو يو عمومي چوکاټ دی او د راتلونکو خاصو مجالسو او پروګرامونو د سهولت او همکاري په اراده جوړه شوې ده.

**اوله ماده: د حمايت او همکاري ساحه:**

علمي او تحقيقاتي پروګرامونه به په لاندي ساحو کې ترسره کيږي.

د هلمند پوهنتون همکاري به په لاندي ساحو کي وي:

1. د هلمند پوهنتون به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند استادانو د علمي مقالو په ليکنه او تأئيد کې مرسته کوي.
2. څرنګه چې هر پوهنتون د خپلې علمي مجلې له لاري د خپلو استادانو علمي اثارو نشرولو لپاره خاص تائيد شوي اصول لري، نو د همدې تفاهم په اساس به د هلمند پوهنتون د خپلو استادانو د اصولو په رڼاکې فراه د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند استادانو علمي مقالې د هلمند پوهنتون په علمي مجله کې نشروي.



HELMAND UNIVERSITY

Scanned with CamScanner

- د هلمند پوهنتون به فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو لپاره د OBE_SCL او نورو لازمو ورکشاپونو زمینه برابروي او همدارنګه به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې څلورتنه کادري غړي د OBE_SCL په برخه کې د ټرینرانو په سویه روزي.

3. د هلمند پوهنتون به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې سره د تضمین کیفیت او اعتبار ورکوونې په پروسه کې هر اړخیزه مرسته کوي.
4. د هلمند پوهنتون به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو د علمي ترفیعاتو او د استادانو د تقرر او انفکاک په برخه کې لازمه اصولي همکاري کوي.
5. د هلمند پوهنتون به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د اړتیا په صورت کې د ذکر شوی مؤسسې محصلانو ته د ویډیو کنفرانس په واسطه په تدریسي او عملي چارو کې مرسته کوي.
6. د هلمند پوهنتون به په خپلو ملي کنفرانسونو او پروګرامونو کې فراه د لوړو زده کړو مؤسسې یو شمیر پرسونل ته د ګډون بلنه ورکوي.
7. د هلمند پوهنتون به د فراه دلوړو زده کړو مؤسسې اړوند د لابراتوارونو تکنیشنان د هغوی د رشتې مطابق روزي (البته د دواړو تحصیلی بنسټونو په موافقه او د امکاناتو په دائره کې).
8. د هلمند پوهنتون به فراه د لوړو زده کړو مؤسسې ته د خپل الکترونیکي کتابخانې څخه د استفادې لپاره په زمینه برابرولو کې مرسته کوي.
9. د هلمند پوهنتون به فراه د لوړو زده کړو مؤسسې په نوبت د مسلکي پرمختیایي مرکز (PDC) لپاره د اړینو مسلکي ورکشاپونو د موادو په برابرولو کې همکاري کوي.

**فراه د لوړو زده کړو مؤسسې همکاري به په لاندې ساحو کې وي:**

10. څرنګه چې هر پوهنتون د خپلې علمي مجلې له لارې د خپلو استادانو علمي اثارو نشرولو لپاره خاص تائید شوي اصول لري، نو د همدې تفاهم په اساس به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو استادانو د اصولو په رڼاکې هلمند پوهنتون اړوند استادانو علمي مقالې د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه په علمي مجله کې نشروي.
11. که چیرې د هلمند پوهنتون رهبري وغواړي څو په فراه کې په کومه برخه باندې تحقیق تر سره کړي، نو په هغه صورت کې د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو تحقیقاتي امکاناتو څخه استفاده کولای شي.
12. فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو پوهنځیو اړوند مسلکي پرسونل به د هلمند پوهنتون د ټولو هغه پروګرامونو په تطبیق کې مرسته کوي کوم چې د هلمند پوهنتون لخوا په فراه ولایت کې پلي کیږي.



HELMAND UNIVERSITY

Scanned with CamScanner

13. دا چې فراه ولایت د ځینو کرنیزو محصولاتو اصلي ټاټوبی دي، نو د هلمند پوهنتون په غوښتنه به فراه د لوړو زده کړو موسسه د همدې کرنیزو نباتاتو په اړه د معلوماتو په راټولولو کې مرسته کوي.

14. فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به د امکان تر بریده د خپلو څیړنو معلومات د هلمند پوهنتون سره شریکوي.

15. که چیرې فراه د لوړو زده کړو مؤسسه د هیواد په سطحه کوم پروګرام جوړوي، نو د هلمند پوهنتون استازو ته به د ګډون بلنه ورکوي.

**دوهمه ماده : دوه اړخیزه همکاري:**

16. د هلمند پوهنتون او فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به په دواړو پوهنتونونو کې د یوې مشترکې څیړنیزې ساحې پر تشکیل ګډ کار کوي.

17. د هلمند پوهنتون او فراه د لوړو زده کړو موسسه به د لوړو زده کړو وزارت په تأیید په مشترکو څیړنیزو ساحو کې په ګروپي ډول تحقیقات ترسره کوي.

18. د امکان په صورت کې به دواړه اداري (د هلمند پوهنتون او د فراه د لوړو زده کړو موسسه) کوښښ کوي ترڅو په مشترک ډول په علمي او اداري برخه کښې ځیني ضروري ورکشاپونه ترتیب کړي.

19. د ضرورت په اساس دواړه کولای شي ترڅو د مؤقت وخت لپاره د یو بل له ماشین الاتو او لابراتواري توکو څخه استفاده وکړي.

20. دواړې اداري (د هلمند پوهنتون او د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه) به یو دوه اړخیزه د همکاري شورا یا مجلس تأسیسوي او د دواړو خواوو استازې به په کې برخه لري. (دا مجلس به څلور غړي ولري چې دوه غړي به د هلمند پوهنتون او دوه غړي به فراه د لوړو زده کړو مؤسسې څخه وي) دا څلور کسیزه مجلس به د دې هوکړه لیک د اجراء مسولیت ولري او پر خپل وخت به د قوانینو په رڼا کې اجرآت کوي همدارنګه د دې همکاري د پرمختګ څارنه به کوي، او دا مجلس به د شرایطو او ضرورتونو مطابق جوړیږي.

**دریمه ماده: خاص شرایط:**

1 د یوې اداري د دوهم نوم د استعمال په وخت کې هره اداره مکلفه ده، چې د هغه بلې ادارې مشوره او تائید واخلي او همدارنګه عالي رتبه استادانو یا د پوهنځي د غړو د فعالیتونو د نتایجو خپرولو لپاره د دوهم نوم استعمال هم د دې تفاهم نامې لاندې باید د دواړو طرفینو تأئید موجود وي.

2 دا تفاهم نامه به د افغانستان د اسلامي امارت د قوانینو په اساس تشریح کیږي.



Scanned with CamScanner

3 دواړه تحصیلي اداري به یو د بل سره مشوره کوي او کوښښ به کوي چې کومه لفظي ستونزه یا غلط فهمي چې ددې تفاهم نامې د پلي کېدو په جریان کې راځي، حل کړي.

**څلورمه ماده: د معنوي دارایي حقوق:**

1 که چیرې هلمند پوهنتون د استادانو او محصلانو او یا هم فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو لخوا یا محصلانو له خوا کوم فعالیت ترسره کیږي، له نتایجو څخه به یې دواړه اداري استفاده کوي او دواړه پوهنتونونه یې د سوداګري کولو حق لري. (البته د هغه بل پوهنتون موافقه شرط ده!)

2 په هغه صورت کې چې یو تحقیق د یادو پوهنتونونو څخه په شخصي او تنهایي ډول سر ته ورسیږي او یا د تحقیق نتایج د یو خاص شخص په واسطه ترلاسه شي، د IPR حق او امتیاز یوازې د هغه ادارې په برخه دی.

3 په هغه صورت کې، چې د یو تحقیق نتایج او یا هم کوم بل اکاډمیک پروګرام په ګډه د دواړو پوهنتونو د فعالیتونو په نتیجه کې سرته ورسیږي، نو د دواړو پوهنتونونو ګډ امتیاز دی او که چیرې یو وخت امتیاز ورکول کیږي، نو دواړه تحصیلي اداري د امتیاز حق لري.

4 هره خپرونه، سند، او کومه لیکنه چې د برخه والو د ګډې همکارۍ پواسطه انجام مومي، نو ددې تفاهم نامې مطابق به ترسره کیږي.

5 د هرې خپرونې، سند او یا لیکنې لپاره د نوم ، لوګو او یا بله کومه رسمي علامه استعمالیږي، د دواړو ادارو اجازې ته ضرورت دی، د دې لپاره چې د لوګو او نوم څخه غلطه استفاده ونشي.

**پنځمه ماده: جریان، ختم او اصلاحات:**

1 دا تفاهم نامه د لاسلیک د نېټې څخه پنځه کاله په بر کې نیسي او دواړه تحصیلي ادارې اختیار لري، چې په لیکلي ډول د جانبینو په توافق دا پروسه تمدید کړي.

2 دواړه اداري دوه اړخیز حق لري، چې د دې تفاهم نامې شرایط په لیکلي ډول تصحیح کړي.

3 د دې تفاهم نامې ختم، تصحیح او تر وخت تېرېدل به پر جاري فعالیتونو کومه اغیزه ونکړي او د تفاهم نامې ختم، تصحیح او تر وخت تیریدل د دواړه پوهنتونونو په موافقه پورې اړه لري.

**شپږمه ماده: شکایت**

د دواړو تحصیلي ادارو د هر عمل، تصویب او مربوطه عملیاتو او روزنو انجام د قانون په رڼا کې د دې تفاهم نامې لاندې راځي او همدارنګه د هرې لایحې رهنما او معلوماتو وړ عالي رتبه شخص ته ورکول کیږي.



HELMAND UNIVERSITY
FARAH HIGHER EDUCATION INSTITUTE

Scanned with CamScanner

هره تحصيلي اداره د دې تفاهم نامې يوه اصلي کاپي چې د هلمند پوهنتون رئيس او فراه د لوړو زده کړو مؤسسي رئيس امضاء کړي وي د ځان سره ولري. په هغه صورت کې چې لفظي ستونزې يا کوم بل غلط فهمي رامنځته کيږي، نو دغه تړون ليک په (۶) پاڼو کی په پښتو ژبه د مراجعې وړ دی.

دا هوکړه ليک د ۱۴۴۵/۱۰/۱۵ ل س چی د ۱۴۰۳/۲/۵ ل ل (نيتې سره سمون لري) تر ۱۴۵۰/۱۰/۱۵ ل س چی د ۱۴۰۸/۲/۵ ل ل (نيتې سره سمون لري) پورې د اعتبار وړ دي

مولوی سميع الله حقانی

د فراه د لوړو زده کړو مؤسسي رئيس

لاسليک او نيټه

شيخ حافظ مولوي محمد نسيم حقانی

هلمند پوهنتون رئيس

لاسليک او نيټه